# د مدینې برکتونه

## 22-June-2023



هفته وار د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنَّتو ډك بیان

(For Islamic Brothers)

**په 22 جون کال 2023ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان**

# د مدينے برکتونه

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... جنت د کوم خيز نه جوړ شوے دے...؟
- ...په قرآنِ پاک کښې د مدينے منورے ذِکرِ خير
- ... مدينه د مُرادونو پوره کيدو ځائے دے
- ... يومُ الخِلَاص (د صفائيئ د ورځې) نه څه مُراد دے...؟

پيشکش
اَلْمَدِيْنَۃُ الْعِلْمِيَۃ (اسلامِک ريسرچ سنټر)
(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا رَسُوۡلَ اللّٰه — وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا حَبِيۡبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه — وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا نُوۡرَ اللّٰه

**نَوَيۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِكَافِ** (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

په شُعَبُ الۡاِيۡمان کښې دي: کوم بنده چې د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په روضهٔ پُرنُور حاضري اوکړي او دا آيت تلاوت کړي:

اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوۡنَ عَلَى النَّبِيِّ ؕ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا صَلُّوۡا عَلَيۡهِ وَسَلِّمُوۡا تَسۡلِيۡمًا (پاره:22، سورهٔ احزاب:56)

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بيشکه **اللّٰه** او د هغه فرښتے په نبي باندې درود ليږي. اے ايمان والؤ! په هغوئي باندی درود او ډير ډير سلام اوليږئ۔

بيا 70 ځله درودِ پاک اولولي نو يوه فرښته هغه ته دا غږ کوي چې: اے فلانکيه! **اللّٰه** پاک دې په تا رحمتونه نازل کړي! ستا دې هيڅ حاجت باقي پاتې نه شي. (1)

سُبۡحٰنَ اللّٰه! څومره ښکلے شان دے د درودِ پاک...!! **اللّٰه** پاک دې زمونږه هم د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښکلې پُرنُور روضے حاضري نصيب کړي،

1...شعب الايمان، ص:77۔

کاش! چې مونږ ته هُم د مزارِ پُرانوار مخې ته، سر ښکته کړے، لاس په نامه، په ادب سره، په عشقِ رسول کښې په ژړا ژړا د درودِ پاک لوستلو توفيق رانصيب شي. که مونږه د زيات درودِ پاک لوستلو عادت جوړ کړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د مدينے حاضري به مو هُم نصيب شي. **الله** پاک دې مونږ له په کثرت سره د درودِ پاک لوستلو توفيق راکړي. راځئ چې په بارګاهِ رسالت کښې خواست اوکړو:

مجھے مدینے کی دو اجازت | نبیِّ رحمت، شفیعِ اُمّت
پلاؤ بُلوا کے جامِ اُلفت | نبیِّ رحمت، شفیعِ اُمّت
قلیل روزی پہ دو قناعت | فضول گوئی سے دیدو نفرت
درود پڑھتا رہوں بکثرت | نبیِّ رحمت، شفیعِ اُمّت

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اَفْضَلُ الْعَمَلِ النِّيَّةُ الصَّادِقَةُ رښتونے نيت افضل ترين عمل دے. (1)

اے عاشقانِ رَسُول! د هر کار نه مخکښې د ښو ښو نيتونو عادت جوړ کړئ ځکه چې ښه نيت بنده جنت ته داخلوي. د بيان اوريدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❀ د عِلمِ دِين زده کولو د پاره به پوره بيان اورم ❀ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به با اَدبه کښينم ❀ د خپلې اصلاح د پاره به بيان اورم ❀ چې څه اورم نورو ته به ئې د رسولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1...جامع صغیر، صفحہ:81، حدیث:1284۔

## د يو مجذوب [ديوانه] نصيحت

د شيخ طريقت، امير اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پير صاحب سيدي قطب مدينه مولانا ضياءُ الدين مدني صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير لوئے ولئ کامل وو، هغوئي ته دا سعادت نصيب شوے وو چې هغوئي 75 کاله په مدينه منوره کښې تير کړل، اوس هم اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په جنت البقيع کښې آرام فرمائي. [1] د سيدي قطب مدينه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دا معمول مبارک وو چې د هغوئي په کور کښې به محفلِ پاک کيدو، د پاکستان، هندوستان يا نورو ملکونو نه چې به کوم علمائے کرام مدينے منورے ته حاضريدل، هغوئي به هم په دغه محفل پاک کښې بيان فرمائيلو.

يو ځل د پاکستان ډير لوئے عالم دين حضرت علامه منظور احمد شاه صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مدينے منورے ته حاضر شوے وو، هغوئي د سيدي قطبِ مدينه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په کور کښې په محفل پاک کښې بيان اوفرمائيلو، په دغه بيان کښې هغوئي خپله يوه واقعه بيان کړه، ډيره د ايمان نه ډکه واقعه ده، اوئې فرمائيل: په **مدينهٔ پاک** کښې چرته چې زه اوسيږم، د هغه ځائے نه مسجدِ نبوي شريف ته په راتللو کښې به ما په لاره کښې يو **مجذوب** صاحب ليدلو (مجذوب هم د **الله** پاک ولي او د شريعت پابند وي، په هغوئي باندې د **الله** پاک محبت دومره غالب شي چې هغوئي د دنيا هوش نه لري، ځکه په ظاهره ديوانه ښکاري).

خير! علامه منظور احمد شاه صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: هغه مجذوب صاحب به په لاره کښې ښکاريدو خو کله مې هغوئي ته خاص توجُّه نه وه کړې، ما به هغه يو عام ديوانه ګڼلو او تيريدم به، يو ځل په روضةُ الجَنَّه (د جنت ټکړه يعني د خوږ آقا، مدني مصطفٰے صَلَّى الله

[1]...انوارِ قطب مدينه، صفحه:337 خلاصةً۔

عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د روضے مبارکي اور منبر اقدس تر مينځه ځائے کښې) د حاضرئ سعادت رانصيب شو، د دې ځائے نه د سعادتونو حاصلولو نه پس زه جنتُ البقيع ته لاړم، په هغه وخت کښې هسې زما په زړه کښې خيال راغلے چې سُبۡحٰنَ الله! **مدينهٔ پاک هُغه مبارک ښار دے، چرته چې دوه جنتونه دي:** (1):رَوۡضَةُالۡجَنّة(2):اوجنّتُ الۡبَقِيۡع.

په داسې قسمه خبرو مې سوچ کولو او د خپل کور په لور روان ووم، په لاره کښې د هغه ديوانه صاحب په خوا تيريدم، هغه ما ته غږ اوکړو: اَخِيۡ!تَعَال ورورہ! دلته راشه...!! اِسۡمَعۡ كَلَامِيۡ زما خبره واوره! زه ورنزدې شوم، هغه خپل لاس زما په اوګه کيښودو او اوئې فرمائيل: وَاللهِ الۡعَظِيۡمِ اللهُ حَيٌّ وَرَسُوۡلُهٗ حَيٌّ يعنې په **الله** پاک مې دې قسم وي! **الله** پاک هم ژوندے دے او د هغه په عطا سره د هغه خوږ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم ژوندے دے وَاللهِ الۡعَظِيۡمِ اللهُ يَنۡظُرُوَ رَسُوۡلُهٗ يَنۡظُرُ په **الله** پاک مې دې قسم وي! **الله** پاک هم وينې او د هغه په عطا سره د **الله** پاک رسول صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم وينې. د دې قسمونو خوړلو نه پس هغه اوفرمائيل: وَاللهِ الۡعَظِيۡمِ! اَلۡمَدِيۡنَةُ كُلُّهَا جَنَّةُ الۡفِرۡدَوۡس په **الله** پاک مې دې قسم وي! **مدينهٔ پاک** (کښې صرف دوه جنتونه نه دي بلکه **مدينهٔ پاک**) ټوله جَنَّةُ الۡفِرۡدَوۡس ده. [1]

مولانا منظور احمد شاه صاحب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه دا واقعه د سيدي قطب مدينه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په وړاندې په محفل مبارک کښې بيان کړه، په محفلِ پاک کښې چې ئې بيان کړه نو د خلقو د هغه ديوانه صاحب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه سره د ميلاويدو شوق راپيدا شو خو د لټولو باوجود هغه چرته ښکاره نه شو.

عشاق سمجھتے ہیں اسے گلشنِ جنّت | کہتے ہیں جسے لوگ بیابانِ مُحَمَّد

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

[1]...مدينة الرسول، صفحه:415۔

## مدينے ته جنت وئيل ځنګه دي . . .؟

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مدينه مدينه ده، د **مدينۀ پاک** څومره ښکلے شان دے، واقعي چې مدينه منوره د عاشقانو جنت دے. دلته دا وضاحت اوکړم چې په مدينه منوره کښې خاص د زمکې هغه حصه کومه چې د خوږ مدني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بدن مبارک سره لګيدلې ده، يعنې د قبر مبارک دننه حصه دا د جنت نه څه چې د عرشِ اعظم نه هُم غوره ده. (1)

د زمکې د دې حصے نه علاوه د مدينے منورے باقي زمکې مثلًا د مدينے منورے کُوڅو، د مدينے منورے مقدّس بازار وغيره ته هُم عاشقانِ رسول علمائے کرام او اوليائے کرام جنت وائي. مثلًا د اعلىٰ حضرت خليفه مولانا جميل رضوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي:

مدينے ميں ہزاروں جنتيں اُن کو نظر آئيں | نظارہ کر تو ليں اک بار رِضواں ميری جنّت کا

داسې ځائے ته جنت وئيلو نه مراد هغه حقيقي جنت نه وي، دا د اهلِ عشق يو ځانګړے مِزاج دے، چې دوئي د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د نسبت په وجه مدينے ته جنت وائي او د مدينے طلبګار هُم وي.

کوئی جائے گا دوزخ کو، کوئی جنّت ميں پہنچے گا | مدينے کی طرف دوڑے گا دِيوانہ مُحَمَّد کا

مولانا حَسَن رضا خان صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه څه ښکلې ليکي:

سَيرِ گلشن کون ديکھے دشتِ طيبہ چھوڑ کر | سُوئے جنّت کون جائے، دَر تمہارا چھوڑ کر

ايسے جلوے پر کروں ميں لاکھ حُورَوں کو نثار | کيا غرض کيوں جاؤں جنّت کو مدينہ چھوڑ کر (2)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

---

1... فتاوىٰ رضويه، جلد:10، صفحه:711.

2... ذوقِ نعت، صفحه:133-134 ملتقطًا.

# جنت د کوم څيز نه جوړ دے...؟

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! کيدے شي چې د چا په ذهن کښې سوال پيدا شي چې عاشقان د مدينے منورے طلب دومره ډير زيات ولې کوي؟ مدينے سره دومره محبت ولې کوي؟ راځئ چې د دې په تعلق سره يو حديث شريف وارو: د امام بخاري رحمۃ اللہ علیه د استاذانو استاذ مُحَدِّثِ عبد الرزاق رحمۃ اللہ علیه حديثِ پاک ذکر کړے دے، ډير مشهور حديث شريف دے. صحابئ رسول حضرت جابر رضی اللہ عنه په بارګاه رسالت کښې حاضر شو، عرض ئې اوکړو: يا رسولَ الله صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم! **الله** پاک د ټولو نه وړومبے کوم څيز پيدا کړو؟ د نُور والا آقا، مکي مدني مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم اوفرمائيل: هُوَنُوْرُ نَبِيِّكَ يَاجَابِرُ! يعنې اے جابره! **الله** پاک چې د ټولو نه مخکښې کوم څيز پيدا کړو، هغه ستا د نبي (رسولِ هاشمي صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم) نُور مبارک دے.

رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم نور اوفرمائيل: **الله** پاک دغه نُور پيدا کړو او 12 زره کاله ئې په مقامِ قُرب کښې اوساتلو، بيا ئې دغه نُور 4 حِصّے کړو، د هغې د دريو حصو نه ئې عرش، کرسي او عرش پورته کوونکې فرښتې جوړې کړې او د دغه نورِ پاک څلورمه حصه ئې بيا تر 12 زره کالو پورې په مقامِ محبت کښې اوساتله، بيا ئې 12 زره کاله پس د هغې 4 حِصّے کړې، د يوې حِصّے نه ئې قلم، د يوې حِصّے نه ئې لوح او د يوې حِصّے نه ئې **جنت جوړ کړو.** (1)

سُبْحٰنَ الله! اے د مدينے عاشقانو! لږ غور اوکړئ! ❁ جنت کوم چې مقامِ رحمت دے ❁ هغه جنت د کوم چې د نيکانو خلقو سره وعده شوې ده ❁ هغه جنت د کوم

---

1...مصنف عبد الرزّاق، صفحه:63-64۔

چې په قرآن او حديث کښې فضائل بيان شوي دي، هغه جنت کوم چې د نُور د يوې حِصّے نه جوړ دے، هغه نُور والا آقا، خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې پخپله کوم د نُور نه ډک ښار کښې تشريف فرما دے، هغې ته مدينه وئيلے شي، بيا به عاشقان ولې نه وائي چې اَلْمَدِيْنَةُ كُلُّهَا جَنَّةُ الْفِرْدَوْس يعنې، مدينه ټوله جنت الفردوس دے. سيدي اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي:

اِتنا عجب بلندیِ جنّت پہ کس لئے
دیکھا نہیں کہ بھیک یہ کس اُونچے گھر کی ہے

**وضاحت:** يعنې جنت د ووه واړو آسمانونو نه بره دے، د جنت په داسې اوچت او بره شان باندې حيرانتيا هيڅ خبره نه ده، آيا دې ته نه ګورئ چې دا د کوم اوچت کور يعنې مالکِ جنت، صاحبِ کوثر صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم [په خاطر] عطا کړے شوے خير دے.

د دې نه پس اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډيره د کمال خبره کړې ده، جنت چې کوم دے، دا د ووه واړو آسمانونو نه بره دے او د جنت چهت عرشِ اعظم دے، اوس د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بے مثاله خيال ته اوګورئ! ليکي:

عرشِ بَریں پہ کیوں نہ ہو فردوس کا دماغ
اُتری ہوئی شبیہ ترے بام و دَر کی ہے

**وضاحت:** يعنې د جنت چهت کوم چې عرشِ اعظم دے، دې ته د دې اړخ نه اوګورئ لکه چې په ناز او فخر کښې د جنت دماغ عرشِ اعظم ته رسيدلې دي، دا ناز، دا فخر ولې دے؟ ځکه چې جنت د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د در او ديوال شبيه يعنې تصوير دے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## چرته چې محبوب، هلته جنت

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دلته دا خبره هم ياده ساتئ! عرش او کرسي، لوح او قلم، جنت او د هغه ځائې ټول نعمتونه جوړ شوي هم زمونږ د آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُور نه دي او دې ته چې کوم فضيلت حاصل دے، هغه هم زمونږ د آقا او مولیٰ، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په برکت باندې دے. اوګورئ! **الله** کريم په قرآنِ مجيد کښې ارشاد فرمائي:

لَاۤ اُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِۙ(۱) (پاره:30، سورۀ بلد:1)

[مَفهُوم]ترجمۂ کنزُالعِرفان: زما دې په دې ښار قَسَم وي.

په دې آيت مبارک کښې **الله** پاک د مکّے مُکرّمے قسم ارشاد فرمائيلے دے. آخر مکّے مُکرّمے ته دا شرف ولې ميلاو شو، ربِ کائنات د دې قسم ولې ارشاد اوفرمائيلو؟ ❀ آيا ځکه چې دلته کعبه شريفه ده؟ ❀ يا ځکه چې دلته صفا او مروه ده؟ ❀ دلته منٰی ده ❀ دلته مزدلفه ده ❀ دلته ميدان عرفات دے ❀ دلته حاجيان حج کوي ❀ دلته طواف کيږي ❀ يا ځکه چې د مکّے شريفې په زرګاؤ خاصيتونه دي، آيا د دې خاصيتونو په وجه دې ته دا مقام ورکړے شو؟ نه...!![بلکه] **الله** پاک اوفرمائيل:

وَاَنْتَ حِلٌّۢ بِهٰذَا الْبَلَدِۙ(۲) (پاره:30، سورۀ بلد:2)

[مَفهُوم]ترجمۂ کنزُالعِرفان: [اے حبيبه!] چې ته په دې ښار کښې تشريف فرمائې.

يعنې **الله** پاک د دې ښار مبارک قسم ځکه ارشاد اوفرمائيلو چې دې ښار د محبوبِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښپې مبارکې ښکل کړې دي.

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه: چې د فضيلت اصلي معيار د فضيلتونو والا محبوبِ خُدا صَلَّى

اللہ علیہ والہٖ وسلَّم مبارک وجود دے ❁ هغوئي صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم چې تر کوم وخته پورې په مکه مکرمه کښې تشریف فرما وو، مکه مکرمه افضله وه ❁ کله چې هغوئي صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم مدینے منورے ته تشریف راوړو نو مدینه افضله شوه ❁ کله چې به هغوئي صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم جنت ته تشریف یوسي نو جنت به افضل شي.

صد غیرت فردوس مدینے کی زمیں ہے | باعث ہے یہی اس کا کہ تُو اس کا مکیں ہے

ولې چې تر اوسه پورې هغوئي صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم په مدینه منوره کښې تشریف فرما دي، ځکه عاشقان وائي:

جنت بھی لینے آئے تو چھوڑیں نہ یہ گلی | مُنہ پھیر بیٹھیں ہم تیری دیوار کی طرف

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په قرآنِ پاک کښې د مدینے منورے ذِکرِ خیر

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مدینه منوره د ډیر اوچت شان والا ښار دے، **اللّٰہ** پاک په قرآنِ کریم کښې په ډیرو ځایونو کښې د دې ذکرِ خیر فرمائیلے دے، مثلاً ❁ په قرآنِ کریم کښې په یو ځائے کښې مدینے منورے ته مُدْخَلَ صِدْقٍ (یعنې د داخلیدو رښتونے ځائے) فرمائیلے شوے دے ❁ په یو ځائے کښې مدینے منورے ته دَارُ الْهِجْرَت (یعنې د هجرت ځائے) او ❁ دارُ الْاِیمان (یعنې د ایمان کور) فرمائیلے شوے دے ❁ په یو ځائے کښې دې مبارک ښار ته حَسَنَه (یعنې ښکلے) وئیلے شوے دے.

## مدینه "اَرضُ اللّٰہ" ده

دغه شان د **مدینهٔ پاک** یو ډیر اهم فضیلت دا دے چې ربِ کائنات په قرآنِ کریم

کښې دي ته اَرْضُ الله (يعنې د الله زمکه) وئيلې ده. ارشاد کيږي:

اَلَمْ تَكُنْ اَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوْا فِيْهَا ؕ (پارہ5،سورۃالنساء:97)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: د الله زمکه فراخه نه وه چې تاسو په هغې کښې هجرت کړے وے؟

علماء فرمائي: په دې آيت کښې د اَرْضُ الله نه مُراد مدينهٔ پاک ده. (1) دغه شان په يو مقام کښې الله پاک مدينے منورے ته اَرْضِیْ (زما زمکه) هم وئيلې ده. ارشاد کيږي:

يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنَّ اَرْضِیْ وَاسِعَةٌ فَاِيَّایَ فَاعْبُدُوْنِ ﴿۵۶﴾ (پارہ5،سورۂ عنکبوت:56)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: اے زما مومنانو بندګانو! بيشکه زما زمکه فراخه ده نو صرف زما بندګي اوکړئ.

په تفسيرِ صراط الجنان کښې دي: دا آيت په مکه مکرمه کښې د موجودو هغه کمزورو مسلمانانو په حق کښې نازل شوے وو کومو ته چې هلته د اوسيدلو په صورت کښې د اسلام د ظاهرولو په باره کښې خطرے او تکليفونه وو او هغوئي په ډيره زياته تنګئ کښې وو، الله پاک هغوئي ته حکم اوکړو چې اے زما بندګانو! زما عبادت خو ضروري دے، دلته اوسيدو سره ئې نه شئ کولے نو د مدينے منورے په لور هجرت اوکړئ! هغه فراخه زمکه ده. (2)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د مدينے منورے خومره اوچت شان دے، الله پاک خپل ځان طرفته د دې نسبت اوفرمائيلو، دې ته ئې اَرْضُ الله [د الله زمکه] او اَرْضِیْ [زما زمکه] اووئيله او يوې دې ښکلې خبرې ته هم اوګورئ! چې ربِّ کائنات مدينے منورے

1...وفاء الوفاء(مترجم)، جلد:1، صفحه:52۔
2...صراط الجنان، پاره:20، سورۂ عنکبوت، زيرِ آيت:56، جلد:7، بتغير قليل۔

ته **واسِعَه** يعنې د فراخئ والا زمکه فرمائيلې ده. سُبْحٰنَ الله! دا هم د **مدينۀ پاک** اوچت شان دے، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي:

| | |
|---|---|
| مدینے کے خطے خُدا تجھ کو رکھے | غریبوں فقیروں کے ٹھہرانے والے |

**وضاحت:** يعنې اے مدينے منورے! اے د **محبوبِ کريم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلي ښاره! **الله** پاک دې تا هميشه ښاد او آباد لري چې دا د غريبانانو، فقيرانو، بے وسو او بے درو يو دَر دے.

## د مدينے برکتونه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اے د مدينے عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! **مدينۀ پاک** ډير د برکت والا مقام دے، راځئ چې د مدينے د يو څو برکتونو اوريدلو سعادت حاصل کړو.

## (1): د مدينۀ پاک هر څيز د برکت والا دے

د **مدينۀ پاک** يو ډير اهم برکت دا دے چې د دې ځائے په هر څيز کښې دوه چنده برکت کيښودے شوے دے. د صحابئ رسول حضرت انس بن مالِک رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، رسولِ رحمت، شفيعِ اُمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **مدينۀ پاک** په حق کښې داسې دُعا اوفرمائيله:

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ بِالْمَدِيْنَةِ ضِعْفَيْ مَا جَعَلْتَ بِمَكَّةَ مِنَ الْبَرَكَةِ

يعنې اے **الله** پاکه! څومره برکت چې تا په مکه مکرمه کښې کيښودے دے، د هغې دوه چنده برکت په **مدينۀ پاک** کښې کيږدې. [(1)]

د دې حديثِ پاک په شرح کښې علماء فرمائي: په دې حديثِ پاک کښې د برکت نه

[1]...بخاری، ابواب ذکر المدینة، صفحہ:21۔



www.dawateislami.net

ظاهري او باطني دواړه قسمه برکتونه مراد دي يعني د دعائے مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم معنیٰ دا ده چې اے **الله** پاکه! د **مدينهٔ پاک** په عبادتونو کښې، د **مدينهٔ پاک** په رزق کښې د مکهٔ پاک په نسبت دوه چنده برکت عطا کړې. د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: په **مدينهٔ پاک** کښې د رزق برکتونه خو نن هم په سترګو ليدلے شي چې هلته (هر قسم) ميوے، فروټ وي، د هغه ځائے آب و هوا دومره ښکلې ده چې د مکهٔ پاک داسې نه ده او **د عشق فيصله دا ده** چې د مکهٔ پاک د عبادتونو ثواب اګرچه زيات دے (چې هلته د يو لـمونځ ثواب د يو لاکھ برابر دے) خو د **مدينهٔ پاک** په عبادتونو کښې د **الله** پاک قُرب زيات دے، د دې درجه اعلیٰ ده. (1)

شاہ تم نے مدینہ اپنایا، واہ کیا بات ہے مدینے کی

اپنا روضہ اسی میں بنوایا، واہ کیا بات ہے مدینے کی

ہر طرف بھینی بھینی ہے خوشبو، سوز ہی سوز ہر جگہ ہر سُو

فرش تا عرش نور ہے چھایا، واہ کیا بات ہے مدینے کی (2)

## (2): د مرادونو پوره کيدو ځائے

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د **مدينهٔ پاک** په برکتونو کښې يو برکت دا هم دے چې دا هٔغه ښار دے چرته چې د زړه مرادونه پوره کيږي. دا واقعي حقيقت دے چې، د مدينے بلنه ميلاويدل د دې خبرې علامت دے چې د بنده بخت رابيدار شوے دے، يعني اوس د هغه د مرادونو پوره کيدو، د مشکلاتو لرې کيدو او د پريشانو د ختميدو

1...مرآۃ المناجیح۔
2...وسائل بخشش، صفحہ:388-390۔

وخت راغلے دے. څوک چې مدينے ته تلي دي، لږه د هغوئي نه پوښتنه اوکړئ! د سيدي اعلىٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ چې دا کوم شعر دے:

منگتا کا ہاتھ اُٹھتے ہی داتا کی دَین تھی | دُور قبول و عرض میں بس ہاتھ بھر کی ہے

د دې شعر حقيقي تعبير په **مدينهٔ پاک** کښې واقعي چې محسوسيږي. هلته يو نيم ځل نه بلکه بيا بيا داسې کيږي، چې څنګه په زړه کښې خيال راشي فوراً مراد پوره کړے شي، که څه مشکل راشي، څه سخته پيښه شي نو بس د **يا رسولَ الله!** وئيلو سره سمدستي مشکل حل شي.

## د مرادونو پوره کيدو مختصر واقعات

په دې تعلق سره په زرګاؤ واقعات په کتابونو کښې ليکلے شوي دي، مثلاً ❁ امام طبراني رحمۃ اللہ علیہ د خپلو دوو دوستانو سره مدينے منورے ته حاضر شو، د دوو ورځو نه نهر وو، دوډئ ئې نه وه خوړلې، په بارګاهِ رسالت کښې ئې عرض اوکړو، خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم چا ته په خوب کښې تشريف راوړلو او دوئي ته ئې د دوډئ رسولو حکم ارشاد اوفرمائيلو ❁ حضرت احمد بن نفيس رحمۃ اللہ علیہ بارګاهِ رسالت ته اورسيدو، وږے شوے وو، د سخيانو د سخي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم په خدمت کښې ئې عرض اوکړو، لږ شان وخت تير شوے وو چې يو کَس راغلے، هغه ئې د ځان سره خپل کور ته بوتلو او بهترين خوراک ئې ورته وړاندې کړو او اوئې وئيل: په مړه ګيډه ئې اوخورئ! ځکه چې مکي مدني مصطفٰے صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ما ته ستاسو د ميلمستيا حکم کړے دے ❁ حضرت احمد بن محمد صُوفي رحمۃ اللہ علیہ پيدل سفر اوکړو او **مدينهٔ پاک** ته اورسيدو، په ځنګلونو کښې د سختو مشکلاتو سره مخ

شو، څنګه چې روضهٔ پُرنُور ته اورسيدو نو سلام ئې عرض کړو، بيا اوده شو، چې اوده شو نو قسمت ئې راويښ شو، د اُمَّت غم خوار نبي، مکي مدني صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې تشريف راوړلو، شفقت ئې هم اوفرمائيلو او د خرچ کولو د پاره ئې درهمې (يعنې د سپينو زرو سکې) هم عطا کړې ❁ دغه شان ابو الخير رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بارګاه رسالت ته اورسيدو، روضهٔ پُرنُور ته چې لاړو نو عرض ئې اوکړو: اَنَا ضَيْفُكَ يَارَسُوْلَ الله! يعنې يا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زه ستاسو ميلمه يم. دا ئې اووئيل او د منبر مبارک په خوا کښې اوده شو، ظاهري سترګې ئې پټې شوې او د زړه سترګې ئې اوغړيدلې، سرکار عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورته په خوب کښې تشريف راوړلو، په خپل عاشق باندې ئې عنايات اوفرمائيل، د خوړولو د پاره ئې ورته ډوډۍ هم عطا کړه، نيمه ډوډۍ هغوئي په خوب کښې اوخوړله، چې کله راپاڅيدو نو نيمه ډوډۍ ورسره په لاس کښې وه ❁ د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې کله مدينے منورے ته حاضر شو نو هلته د هغوئي يو قلم ډير خوښ شو، خوښ ئې شو، اخستل ئې غوښتل خو دومره رقم ورسره نه وو، په بارګاه رسالت کښې ئې عرض اوکړو، عرض ئې وړاندې کړو او خپل د اوسيدو ځائے ته ئې واپس تشريف راوړو، څه وخت پس ئې يو دوست راغلو، هغه قلم د هغه په لاس کښې وو، راغلو او مفتي صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه له ئې ورکړو او اوئې وئيل: دا ما تاسو له تحفه راوړې ده. مفتي صاحب فرمائي: ما د سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عطا اوګڼله او د ځان سره مې کيښودو او نيت مې اوکړو چې په دې قلم باندې به د قرآنِ پاک تفسير ليکم.

# د مدينے د حاضرئ وړومبئ شپه

د عاشقِ مدينه، شيخ طريقت، امير اهلِسُنّت دامت بركاتهم العاليه هم ډيره ښکلې واقعه ده، د هغوئې په مدينه منوره کښې د حاضرئ وړومبئ شپه وه، په مسجدِ نبوي شريف کښې يو څو ګسان د تهجدو د لـمونځ د پاره موجود وو، د صبحِ صادق ښکلے وخت وو، اميرِ اهلِ سُنّت د ډير شوق په حالت کښې د نُور وروونکې شين شين ګُنبد شريف د زيارت نه خوندونه اخستل او د قدمين شريفين اړخ نه په بابِ جبريل باندې د شين شين ګنبد د نور او رڼا په سوري کښې داخليدلو او بيا د هغه اړخ نه به په شا بل اړخ ته تللو، د خوند نه ډک به ئې د زړه څومره عجيبه ښکلے کيفيت وو. د دې کيفيت او ديوانګئ په حالت کښې وو چې يو امتحان ورته راپيښ شو. څه داسې اوشو چې عاشقِ مدينه د تاجدارِ مدينه صلى الله عليه واله وسلم ښکلي ښکلي سنت زُلفان مبارک پريښودي وو. هلته د يو پوليس اهلکار په زړه کښې پته نه لګي چې څه خيال راغلے هغه هغوئې خپلې خوا ته را اوبللو او اوئې وئيل: تَعَال يعني دلته راشه. چې کله هغوئې د هغه خوا له لاړلو نو هغه پوښتنه اوکړه: دا څه کوې؟ د جانان په کوڅه کښې د شوق دغه ډکې جذبې په الفاظو کښې چرته بيانيدے شوې! الله پاک ښه پوهيږي چې د هغه په زړه کښې څه وهم پيدا شو، بيا ئې نور تفتيش شروع کړو او د هغوئې دامت بركاتهم العاليه نه ئې پاسپورټ اوغوښتو، دوئې ورته اوفرمائيل: هغه خو زما د اوسيدو په ځائے کښې دے. بيا هغه د هغوئې وَل په وَل زُلفانو ته اوکتل نو اوئې وئيل: دا څه دي؟ عاشقِ سُنّت په مسکا شو او جواب ئې ورکړو: اَلسُّنَّة يعني دا سُنَّت دي. شايد چې د دِيني معلوماتو د کمي په وجه هغه د اميرِ اهلِسُنَّت ګيرې مبارکې له لاس وروړل او اوئې وئيل: هٰذِهِ السُّنَّة يعني دا ګيره مبارکه

سُنَّت ده، زُلفان سُنَّت نه دي. د دې خبرې د اوريدو سره د امیرِ اهلِسُنَّت خيال هٔغه طرفته ته لاړو چې يو کال مخکښې مسجدِ حرام شريف کښې څه فساديان خلق راغلي وو او د هغوئي غټ غټ ويښته وو هغوئي هلته ډيرې بے ادبيانې کړې وې او په هغه دردناکه پيښه کښې ډير حاجيان صاحبان شهيدان شوي هم وو بيا هغوئي اونيولے شو او ووژلے شو، يعنې [اميرِ اهلِ سُنّت دا سوچ اوکړو چې] چرته دا پوليس والا ما د هغوئي نه خو نه ګڼي. بيا هغه خپل يو بل ملګرے کوم چې نزدې په ناسته اوده وو په ټوکر ئې اووهلو. هغه چې څنګه راپاڅيدو نو زر ئې خپل ټوپک ته لاس کړو. د سحر د لـمونځ وخت وو او د اوداسه وغيره حاجت هُم وو، په دې حالت کښې د عاشقِ مدينه زړه ډير بے قراره شولو چې پته نه لګي دوئي څه کول غواړي، پوليس والا د يوې نزدې کمرے دروازه برسيره کړه او دننه ئې د ننوتو اووئيل. هغوئي په زړه زړه کښې د دې سوچ کولو سره پريشانه شوول چې **الله** دې نه کړي که چرې زه دې خلقو دلته پريښودم او دوئي لاړل نو طهارت او اودس او لـمونځ به څنګه ادا کووم؟ په دې سوچ کښې بے اختياره د هغوئي د ژبې مبارکې نه په خپله مورنۍ ميمنۍ ژبه کښې اووتل: يارسولَ الله! کِڈا پھسائی وِيو يعني يا رسولَ الله! دا په کوم ځائے کښې ګير شوم؟ د ديوانۀ مدينه د ژبې نه د دې جملې وتل وو چې د آقائے نامدار، د زړونو قرار صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم مدد راغلو، فرياد واوريدے شو، او هغه پوليس والا يو دم په خندا شو او دوئي ته ئې د تللو اجازت ورکړو او دروازه ئې بنده کړه.

مدد سرکار فرماتے ہیں، دیوانہ اگر کوئی | تڑپ کر یارسولَ اللہ کا نعرہ لگاتا ہے

## (3): مدينه بهتۍ ده

په بُخاري شريف کښې دي، خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اَلْمَدِيْنَةُ كَالْكِيْرِ تَنْفِيْ خَبَثَهَا وَيَنْصَعُ طَيِّبَهَا مدينه د بهتۍ په شان ده کومه چې د اوسپنې نه خيرے لرې کوي او [چې کوم] ښه [وي هغه] خالص کوي.

سُبْحٰنَ الله! دا هم د **مدينهٔ پاک** ځانګړے شان دے، مشهور مُفَسِّرِ قرآن، حکيم الأُمَّت، مفتی احمد يار خان نعيمی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک په شرح کښې ليکي: معلومه شوه چې د مدينے په زمکه کښې د ناقصو د ويستلو او د خالصو د غوره کولو تاثير د شروع نه دے او تر آخرې پورې به وي، کوم منافقان يا کُفّار چې هُم هلته مړه شول او هُم هلته خخ شول، د هغوئي مړي د هٰغه ځائے نه اُووِيستلے شول، غرض دا چې د مدينے زمکه بعضې خبيث د هغه په ژوند کښې اوباسي او بعضې د مرګ نه پس اوباسي، او قيامت ته نزدې به د دې چڼ کولو خصوصي اثر ښکاره کيږي، چې هر کس به ئې په خپلو سترګو وِيني.[1]

## يومُ الخِلاص (يعني د صفائيۍ ورځ) څه ده...؟

د مُسنَد احمد روايت دے، يو ځل خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خطبه ارشاد کړه، دغه وخت هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 3 ځله اوفرمائيل: يَوْمُ الْخِلَاصِ وَمَا يَوْمُ الْخِلَاصِ د صفائيۍ ورځ..!! د صفائيۍ ورځ څه ده؟ صحابهٔ کرامو عليهمِ الرِّضوان عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! يَوْمُ الْخِلَاص نه څه مُراد دے؟ هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1...مرآة المناجيح، جلد:4، صفحه:217بتغير قليل۔

اوفرمائيل: (قيامت ته نزدې به) دجال راځي او اُحُد غر ته به خيژي او د **مدينۂ پاک** طرف ته به ګوري او خپلو ملګرو ته به وائي: آيا تاسو سپين **محل** وينئ؟ دا د احمدِ (مجتبیٰ صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) جُمات دے، بيا به دجال **مدينۂ پاک** ته د راتللو کوشش کوي خو د مدينے منورے په ټولو لارو باندې به فرښتې د حفاظت د پاره موجودې وي (ځکه به دجال دلته نشي داخليدے) آخر به د **مدينۂ پاک** سره په خوا کښې په مالګينه زمکه باندې حصار شي [يعنې پړاؤ به اوکړي]، بيا به په مدينه منوره کښې 3 ځله زلزله راشي، چې د هغې نه به ټول منافقان اويريږي او د مدينے نه به اُوځي او د دجال خوا له به لاړ شي. دا يَوْمُ الخِلَاص (يعنې د **مدينۂ پاک** د صفائيئ) ورځ ده.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دې نه معلومه شوه چې **مدينۂ پاک** به چا بے ايمانه له په خپله زمکه پناه نه ورکوي، اګر چې بعضې منافقان يا غير مسلمه که دلته اوسيږي هم، خو قيامت ته نزدې به هغوئي ټول چڼ کړي او بهر به اُووِيستلے شي. او ورسره ورسره دا هم معلومه شوه چې څوک د مدينے رښتوني عاشقان دي، کوم چې پاخه ايمان والا دي، هغوئي په يو حال کښې هم مدينه پريښودل نه خوښوي، اوګورئ! قيامت ته نزدې به په **مدينۂ پاک** کښې زلزله راځي، هغه وخت به دلته **مخلص** مسلمانان هم وي، منافقان او پټ شوي کافران به هم وي، منافقان خو به د زلزلے نه اُويريږي او مدينه به پريږدي خو مخلص مسلمانان، رښتوني او پاخه عاشقان به هغه وخت هم مدينه نه پريږدي او هيچرته به نه ځي. سُبۡحٰنَ الله دا ده د رښتينو عاشقانو او پخو مسلمانانو پيژندګلو...!!

ٹھکانا مِل گیا ہے فاتِحِ محشر کے دامن میں | مدینہ چھوڑ کر اب اُن کا دِیوانہ نہ جائے گا

جو آنا ہے تو خُود آئے اَجَل عمرِ اَبَد لے کر | مدینہ چھوڑ کر اب اُن کا دِیوانہ نہ جائے گا
بڑی مشکل سے آیا ہے پلٹ کر اپنے مرکز پر | مدینہ چھوڑ کر اب اُن کا دِیوانہ نہ جائے گا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (4): مدينه ګناهونه ورانوونکے ښار دے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږه حديثِ پاک واوريدو، سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَلْمَدِیْنَةُ كَالْكِيْرِ تَنْفِيْ خَبَثَهَا وَيَنْصَعُ طَيِّبَهَا مدينه د بهټۍ په شان ده کومه چې د اوسپنې نه خيرے لرې کوي او [چې کوم] ښه [وي هغه] خالص کوي.

د دې حديثِ پاک په شرح کښې علمائے کرامو دا هم ليکلي دي چې کوم مسلمان د زړه نه کلمه اووئيله، د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رښتونے عاشق وي خو د نفس د بدئ په وجه ئې ګناه کړې وي، په ګناهونو کولو کولو ئې زړه خيرن شوے وي، هغه که چرې مدينهٔ پاک ته راشي نو مدينه منوره د هغه ګناهونه اُووينځي او هغه پاک او صفا کړي. (1)

## اے زائرينو! مغفرت يافته واپس شئ...!!

حضرت حاتِمِ اَصَمّ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير لوئے او مشهور وليُ الله دے، يو ځل د هغوئي د مدينے منورے د حاضرئ سعادت نصيب شو نو هغوئي روضهٔ پُرنُور ته حاضر شول، (د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې ئې سلام عرض کړو، بيا هلته

1...وفاء الوفا، الباب الثاني، الفصل الثاني، جز:1، جلد:1، صفحه:41ماخوذًا۔

اودریدو او د) **الله** پاک په بارګاه کښې ئې عرض اوکړو: اے ربِّ کريمه! زه ستا د **محبوب** صلی اللہ علیہ والہ وسلم په روضهٔ **پُرنُور** کښې حاضر يم، اے خوږه **الله** پاکه! اوس خو ما نامراده مه ليږه. غيبي آواز راغلے: اے بنده! مونږه تا ته د خپل **محبوب** صلی اللہ علیہ والہ وسلم در ته د راتللو اجازت هله درکړو کله چې مونږه ستا پاکول منظور کړل، اوس تهٔ او ستا سره زيارت کوونکي ټول مغفرت يافته واپس شئ! بے شکه **الله** پاک ستا نه هم راضي شو او د هغه ټولو نه هُم راضي شو کومو چې د خوږ نبي، **مُحَمَّدِ** عربي صلی اللہ علیہ والہ وسلم د روضے ديدار اوکړو. (1)

سُبْحٰنَ الله! دا ده مدينه...!! مدينه بهتيځ ده، لکه څنګه چې بهتيځ اوسپنه ګرمه کړي او د هغې نه زنګ لرې کړي، هم داسې **مدينهٔ پاک** دلته راتلونکي خلق د ګناهونو نه پاک او صفا کوي.

کوئی مَنصُور، کوئی بَن کے غزالی آئے
اُن کے دربار سے ہو کر جو سُوالی آئے
اُن کی رحمت کو تَو یہ بات گوارا ہی نہیں
اُن کی چوکھٹ پہ کوئی جائے تو خالی آئے

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## (5): مدينه ايمان تازه کوي

په بخاري شريف کښې په حديثِ پاک کښې دي، د حضرت ابو هريره رضی اللہ عنہ نه روايت دے: اِنَّ الْاِيمَانَ لَيَاْرِزُ اِلَى الْمَدِينَةِ كَمَا تَاْرِزُ الْحَيَّةُ اِلَى جُحْرِهَا بے شکه ايمان د مدينے په لور راټوليږي لکه څنګه چې مار د سوړې په لور راټوليږي. (2)

1...روض الفائق، صفحہ:306۔

2...بخاری، کتاب فضائل المدینہ، صفحہ:498، حدیث:1876۔

دا ډېر ايمان تازه کوونکے حديثِ پاک دے، علمائے کرام د دې حديثِ پاک په شرح کښې فرمائي: په دې حديثِ پاک کښې آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مدينه کښې ايمان راټوليدو ته د مار سره تشبيه ورکړې ده، يعني اوئې فرمائيل: لکه څنګه چې مار خپلې سوړې ته ننوځي، هم داسې به ايمان مدينے ته لاړ شي، لږ غور اوکړئ! مار د خپلې سوړې نه بهر راوځي، د خپل ضرورت څيزونه لټوي، خوراک وغيره لټوي، بهر په ګرځيدو ګرځيدو په هغه باندې لـمر لګي، ګرمي ئې اوشي، دوړه پرې پريوځي په دې وجه د هغه څرمن زړه شي، بيا په کال کښې څه موده هغه داسې هم تيروي چې هغه پټ شي، بهر نه راووځي، چې کله د خپل وخت پوره کولو نه پس بهر راووځي نو د هغه پټ [پوستکے] بدل شوے وي، زوړ پوستکے ئې لرې شي، نوے تازه پړقيدونکے پوستکے پرې راشي.

هُم دا خبره په حديثِ پاک کښې ښودلې شوې ده لکه څنګه چې مار کله خپلې سوړې ته لاړ شي نو د هغه څرمن تازه او پړقيدونکي شي، هم داسې چې کله بنده په دنيا کښې وي، په نورو ښارونو کښې اوسيږي نو په هغه باندې شيطان هم حملے کوي، نفس پرې ګناهونه هم کوي، د دنيادارئ په لور ئې هُم زړه مائله وي، چې له دې وجوهاتو په سبب ئې ايمان کمزورے کيدل شروع شي، بيا د ايمان تازه کولو ضرورت وي او دا تازګي څنګه ميلاويږي؟ اوئې فرمائيل: اِنَّ الْاِيْمَانَ لَيَاْرِزُ اِلَى الْمَدِيْنَةِ ايمان د مدينے په لور راټوليږي. يعني چې کله عاشقانِ رسول په دنيا کښې اوسيږي، په نورو ښارونو کښې، په خپلو خپلو علاقو کښې اوسيږي، هلته د دوئي د دنيادارو سره هم واسطه راځي، د شيطان سره ئې هم واسطه راځي، نفس ئې هم زخمي کوي، نو د ده ايمان په کمزوري کيدو شي، بيا چې هغه مدينے منورے ته اورسي نو د مدينے منورے آب و هوا

داسې ځانګړې ده، داسې ایمان تازه کوونکې ده چې د هغې په برکت ئې ایمان ته بیا تازګي میلاو شي.

## د مدینے د کجورو سره د ایمان تازه کیدل

عظیم عاشقِ رسول، حضرت مُحَدِّثِ اعظم پاکستان مولانا سردار احمد رحمۃ اللہ علیہ د مدینے منورے سره ډیره مینه لرله، د هغوئي رحمۃ اللہ علیہ په محفل کښې به اکثر د مدینے منورے ذکر کیدلو، که چرې څوک د مدینے زیارت کوونکے به د هغوئي په خدمت کښې حاضر شو نو د هغه نه به ئې د مدینے منورے د حالاتو پوښتنه کوله، د مدینے منورے د اوسیدونکو عاشقانِ رسول پوښتنه به ئې ترینه کوله او که چرې چا به [د حرمین شریفین] څه تبرک پیش کړو نو ډیر په خوشحالئ به ئې قبلولو. یو ځل یو حاجي صاحب د مدینے منورے نه واپس راغلو، هغه کجورې راوړې او حاضر شو او د حضرت مُحَدِّثِ اعظم پاکستان رحمۃ اللہ علیہ په خدمت کښې ئې وړاندې کړې، هغه وخت دورهٔ حدیث جاري وو (یعنې کلاس لګیدلے وو) او مُحَدِّثِ اعظم پاکستان رحمۃ اللہ علیہ حدیث شریف ښودلو، هغوئي د مدینے منورے کجورې ټولو طالب علمانو باندې تقسیم کړې او یوه کجوره ئې د جامې په غاښونو کښې اونیوله، بیا ئې اوفرمائیل: خُرمائے مدینه (یعنې د مدینے کجورې) چې تر څو پورې ویلې کیږي او دننه ځي، ایمان به تازه کیږي. [(1)]

ہوائیں آرہی ہیں کوچۂ پُرنورِ جاناں کی | کھلی جاتی ہیں کلیاں، تازگی دِل کو میسر ہے[(2)]

---

1...حیاتِ محدث اعظم پاکستان، صفحہ:155۔

2...ذوقِ نعت، صفحہ:256۔

سُبْحٰنَ الله! دا دے د مدینے برکت...!! **مدينۀ پاک** ايمان تازه کوونکے ښار دے او چې کوم عاشقان دي، د هغوئي خو ايمان د مدينے د نوم اوريدو سره هم تازه کيږي، د عاشقانو ايمان د مدينے د ځيزونو په ليدو، د مدينے منورے نه د راغلو تبرکاتو په ليدلو، د مدينے منورے د کجورو د خوړلو سره په خپل ښار کښې د اوسيدو باوجود هم تازه کيږي، نو چې بيا کله هغوئي مدينے ته لاړ شي نو د ايمان د تازه کيدو به ئې څه حال وي؟

## (6): مدينۀ پاک شفا ورکوونکے ښار دے

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! مدينه منوره چې څنګه باطن پاکوونکے، ايمان تازه کوونکے، د باطني بيمارو نه نجات ورکوونکے مبارک ښار دے، هم داسې دا پاک ښار د ظاهري بيمارو نه هم شفا ورکوونکے دے. آو جي! د **مدينۀ پاک** په خوږو خوږو، ښکلو ښکلو، ښو ښو نومونو کښې يو ښکلے نوم دے: اَلشَّافِيَه يعني شِفا ورکوونکے ښار ❁ د **الله** پاک حبيب، د طبيبانو طبيب صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: غُبَارُ الْمَدِيْنَةِ شِفَاءٌ د **مدينۀ پاک** دوړه د شفا سبب ده. [1]❁ په يو حديثِ پاک کښې دي، خوږ نبي، مکي مدني صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قسم خوړولو سره اوفرمائيل: وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِيَدِهٖ په هغه ذات مې دې قسم وي د چا په قبضۀ قدرت کښې چې زما ځان دے اِنَّ فِیْ غُبَارِهَا شِفَاءً مِّنْ كُلِّ دَآءٍ بے شکه د **مدينۀ پاک** په دوړه کښې د هرې بيمارئ شفا ده. [2]❁ د مسلم شريف حديثِ پاک دے، اُمُّ الْمُؤمِنِين، بي بي عائشه صديقه طيبه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: که چرې په چا به دانه يا پوڼاڅه

1...جامع صغیر، صفحہ:355، حدیث:5753۔
2...الترغیب والترہیب، فی سکنی المدینہ، صفحہ:416، حدیث:28۔

وغيره راوختته نو د طبيبانو طبيب، د **اللّٰه** پاک حبيب صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په هغې باندې ګوته مبارکه کيښودله او فرمائيل به ئې: بِسۡمِ اللّٰه! د **اللّٰه** پاک په حکم سره زمونږ د ښار خاوره او زمونږ د بعضو لُعاب [لاړې مبارکې] زمونږه بيمار له شفا ورکوي. (1)

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د فرمان خلاصه ده: اول به رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مرض په ځائے باندې ګوته کيښودله، بيا به ئې په ګوته باندې خپل لُعاب [لاړې مبارکې] اولګولې او په هغې به ئې خاوره اولګوله او د مرض په ځائے به ئې د هغې ليو اوکړو او فرمائيل به ئې: د **اللّٰه** پاک په حکم سره زمونږه لُعاب [لاړې مبارکې] او د مدينے خاوره شفا ده. (2)

## د مدينے د خاورې په برکت سره د شفا ميلاويدو 2 حکايتونه

❁ شيخ مَجدُ الدين فيروز آبادي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: زما د غلام ټول کال تبه وه، ما خاکِ شِفا راواخسته او په اوبو کښې مې (لږه شان) ويلې کړه او ور مې کړه، اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! په هغه ورځ شفا ميلاو شوه. (3) ❁ شيخ عبد الحق محدث دهلوي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: زه په **مدينهٔ پاک** کښې حاضر ووم، د څه مرض په وجه زما ښپه اوپړسيده، طبيبانو دا يو خطرناک مرض قرار کړو او د علاج نه ئې هم لاس واخستل، ما د **مدينهٔ پاک** د شِفا خاوره راواخستله، هغه مې استعمالول شروع کړه نو اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! په لږو ورځو کښې راته په ډيره آسانۍ سره د پړسوب نه خلاصے ميلاو شو. (4)

1...مسلم، کتاب السلام، باب استحباب الرقیۃ...الخ، صفحہ:866، حدیث:2194۔

2...مرآۃ المناجیح، جلد:2، صفحہ:407 خلاصۃً۔

3...جذب القلوب، صفحہ:27۔

4...عاشقانِ رسول کی 130 حکایات، صفحہ:67۔

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د **مدينۀ پاک** په مبارکه خاوره کښې **الله** پاک دا اثر کيښودے دے چې د دې په برکت سره د ظاهري بدن مرضونه هم ټيک کيږي او د ګناهونو د مرضونو نه شفا هم ميلاويږي، خو! عقيده صحيح کيدل ضروري ده.

نہ ہو آرام جس بیمار کو سارے زمانے سے | اُٹھالے جائے تھوڑی خاک اُن کے آستانے سے[1]

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! عاشقِ مدينه، عاشقِ والئ مدينه، شيخ طريقت، امير اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِيَه ليدلے شوے دے چې هغوئي د **مدينۀ پاک** خاوره مبارکه باقاعده د رانجو په سلائيئ اولګوله او په سترګو کښې ئې پورې کړه بلکه هغوئي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِيَه د **مدينۀ پاک** د خوش نصيبه کونترو د بڼو د نښو نه د مدينے خاوره را واخستله، د رانجو په سلائيئ ئې اولګوله او په سترګو کښې ئې پورې کړه.

لگاؤ تم آنکھوں میں خاکِ مدینہ | کوئی اس سے بہتر بھی سرمہ بھلا ہے
مریضو! اُٹھا کر کے خاکِ مدینہ | کو لے جاؤ! اس میں یقیناً شفا ہے
مدینے کی مٹی ذرا سی اُٹھا کر | پیو گھول کر ہر مرض کی دوا ہے
عقیدت سے خاکِ مدینہ بدن پر | مَلو تم ہر اِک درد کی یہ دوا ہے
بدن پر ہے عطّار کے خاکِ طیبہ | پرے ہٹ جہنّم ترا کام کیا ہے[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1...ذوق نعت، صفحہ:214۔
2...وسائل بخشش، صفحہ:465۔

## د بيان خلاصه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! مونږه واوريدل چې! ❀ **مدينۀ پاک** د عاشقانو جنت دے ❀ په قرآنِ کريم کښې **مدينۀ پاک** ته اَرْضُ الله (يعنې د الله زمکه) وئيلے شوې ده ❀ د مدينے هر څيز د برکت والا دے ❀ هلته د مکۀ پاک په نسبت دوه چنده برکت کيښودے شوے دے ❀ مدينه منوره د مرادونو پوره کيدو ځائے دے ❀ مدينه بهټۍ ده يعنې هغه مبارک ښار دے کوم چې ازلي بد بخته، ضدي کافران او منافقان نه قبلوي او کوم پوخ مسلمان، رښتونے عاشقِ رسول چې دلته راشي، هغه ته د ګناهونو د ګندګۍ نه نجات ورکوي ❀ اَلْحَمْدُلِلّٰه! مدينه منوره ګناهونه ورانوونکے ښار دے ❀ **مدينۀ پاک** ايمان تازه کوونکے ښار دے ❀ او د **الله** پاک په عطا سره، د **الله** پاک په فضل او کرم سره د مدينے منورے په خاوره کښې د ټولو بيمارو شفا کيښودے شوې ده. د **مدينۀ پاک** نور هم ډير برکتونه دي خو حقيقت دا دے چې

زندگياں ختم هوئيں اور قلم ٹوٹ گئے | تيرے اَوصاف کا اِک باب بھی پُورا نہ هوا

څوک هُم د رسولِ رحمت، شفيعِ اُمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د نسبت لرونکي څه څيز پوره فضيلت نه شي بيانولے...!! مونږ دعا کوو چې مونږه په مختصر طور کوم ذکرِ مدينه اوکړو، **الله** پاک دې د دې په برکت مونږ ته عشقِ مدينه رانصيب کړي، شوقِ مدينه دې رانصيب کړي، کاش! چې مدينے ته بيا بيا، بيا بيا حاضريدل رانصيب شي، او آخر په بقيع پاک کښې راته دوه ګزه زمکه نصيب شي، **الله** پاک دې مونږ ټولو ته د عشقِ مدينه، د ذوقِ مدينه، د ذکرِ مدينه، د فکرِ مدينه او د يادِ مدينه دولت رانصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

| | |
|---|---|
| عجب رنگ پر ہے بہارِ مدینہ | کہ سب جنتیں ہیں نثارِ مدینہ |
| مَلائک لگاتے ہیں آنکھوں میں اپنی | شب و روز خاکِ مزارِ مدینہ |
| رہیں اُن کے جلوے بسیں اُن کے جلوے | مرا دل بنے یادگارِ مدینہ |
| مری خاک یاربّ نہ برباد جائے | پسِ مرگ کردے غبارِ مدینہ[1] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!   صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو کار: هفته واره اجتماع

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! په زړه کښې د مدينے د عشق زياتولو، د يادِ مدينه، ذکرِ مدينه کولو، د ګناهونو او فضولياتو نه د بچ کيدو، د ښه، بامقصده، د سنتو نه ډک او د نيکو والا ژوند تيرولو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره مضبوط وابسته اوسئ او په 12 ديني کارونو کښې هم ښه پوره برخه اخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د دين او دنيا بے شميره برکتونه به مو نصيب شي. په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار دے: هفته واره اجتماع.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د هر زيارت په ورځ د دعوتِ اسلامي هفته واره د سنتو نه ډکه اجتماع کيږي، په کومه کښې چې تلاوت، نعت، بيان او ذکر او دعا کيږي او په آخره کښې د سنتو او آدابو زده کولو حلقے هم لګي، دغسې د هفته وارې اجتماع په ذريعه د نيکو ګټلو او د علمِ دين زده کولو ښه موقع ميلاويږي، تاسو هم پوخ نيت اوکړئ چې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د

1...ذوقِ نعت، صفحہ:212-213۔

هر زيارت په ورځ به په پابندئ سره ټخپله هم په هفته واره اجتماع کښې شرکت کوو او د نيکئ د دعوت ورکولو په ذريعه به نور هم د ځان سره راولو.

## د ټيبل ټينس د شوق لرونکي اصلاح څنګه اوشوه...؟

د کراچئ (پاکستان) د يو اسلامي ورور په باره کښې بيان کړے شوي دي چې هغه د مذهبي ذهن نه لرلو په وجه په فضولياتو کښې د خپل ژوند شپې او ورځې تيرولې، د ګناهونو هم سلسله وه، او هغه د ټيبل ټينس ډير شوق لرلو، چې څنګه به ماښام شو نو په ټيبل ټينس کښې به مصروف شو او بعضې وخت به د دا سلسله تر شپې پورې روانه وه، يو ځل د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول سره تعلق لرونکي يو اسلامي ورور هغه ته او د هغه سره لوبه کوونکو ته د لمونځ کولو او په هفته واره اجتماع کښې د شرکت کولو دعوت ورکړو، اسلامي ورونړو هغه ته پرله پسې د نيکئ دعوت ورکولو، آخر د ټيبل ټينس شوق لرونکي هغه ګس په هفته واره د سنتو ډکه اجتماع کښې شرکت شروع کړو، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د هفته وارې اجتماع په برکت په مزه مزه د هغه زړه نرم شو، د هغه د تور زړه نه خيرے په لرې کيدو شو، هغه د خپلو ټولو ګناهونو نه توبه اوکړه او فضوليات ئې هُم پريښودل او د دعوتِ اسلامي د پاک ديني ماحول سره وابسته شو.

| | |
|---|---|
| يہاں سنّتیں سیکھنے کو ملیں گی | دِلائے گا خوفِ خُدا مدنی ماحول |
| تُو آ بےنمازی، ہے دیتا نمازی | خُدا کے کرم سے بنَا مدنی ماحول |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د

بعضو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِيَ فِي الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي [1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## "غمرازي" سنتِ مصطفٰے دے

**د آخِري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک:** څوک چې د چا غم ځپلي کَس تعزيت (يعني غمرازي) اوکړي **الله** پاک به هغه ته د تقوٰی لباس ور واغوندي، او د روحونو په مينځ کښې به د هغه په روح باندې رحمت فرمائي، او څوک چې د چا غم ځپلي تعزيت (يعني غمرازي) اوکړي **الله** پاک به ورته د جنت د جوړو نه داسې جوړے ورعطا کړي چې د هغو قيمت دنيا هم نشي کيدے. [2]

اے عاشقانِ رَسُول! غمرازي کول د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سنت عمل دے ❁ زمونږه آقا، د مدينے والا مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د خپلو صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د حالاتو نه ځان خبرولو او د ضرورت په وخت به ئې د هغوئې سره غمرازي هم کوله، مثلاً ❁ که څوک به بيمار وو نو د هغه تپوس به ئې کولو ❁ که څوک به په سفر کښې وو نو د هغه د پاره به ئې دعا کوله ❁ که څوک به وفات شو نو د هغه د پاره به ئې د بخښنې دعا کوله. روايت دے چې يو حبشي زنانه يا نارينه به په جُمات کښې جارو

---

[1]...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔

[2]...مُعْجَمُ الْاَوْسَط، جلد:6، صفحہ:429، حدیث:9292۔

وهله، يوه ورځ ئې هغه په جُمات کښې اونه ليدو [يا اونه ليدله] ، نو د هغه په باره کښې ئې پوښتنه اوکړه؟ عرض اوکړے شو: هغه وفات شوے دے، ارشاد ئې اوفرمائيلو: تاسو زه ولې نه ووم خبر کړے؟ ما د هغه قبر له بوځئ! بيا هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه د قبر خوا له تشريف يوړلو او د بخښنې دعا ئې اوفرمائيله. [1] ❁ [يو بل حديث شريف دے چې] يو صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په بارګاهِ رسالت کښې عرض اوکړو: يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ما پسې غم او قرض نښتي دي. غم خوار نبي، مکي مدني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه سره غم خواري اوکړه او د قرض نه د خلاصي وظيفه ئې ورته اوښودله، ارشاد ئې اوفرمائيلو: هره ورځ سحر او ماښام دا لوله:

اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَعُوۡذُبِكَ مِنَ الۡهَمِّ وَالۡحُزۡنِ وَأَعُوۡذُبِكَ مِنَ الۡعَجۡزِوَالۡكَسَلِ وَاَعُوۡذُبِكَ مِنَ الۡجُبۡنِ وَالۡبُخۡلِ

وَاَعُوۡذُبِكَ مِنۡ غَلَبَةِ الدَّیۡنِ وَقَهۡرِالرِّجَالِ

هغه صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما دا عمل اوکړو نو **الله** پاک زما غم لرې کړو او زما قرض ئې ادا کړو. [2]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سنتو باندې د عمل کولو په ذريعه مونږ له هم پکار دي چې مونږه هم د خپلو خپلوانو، مسلمانانو ورونړو، ګاونډيانو او دوستانو خپلوانو سره غم رازي اوکړو او ثواب اوګټو. **الله** پاک دې مونږ ټولو له د عمل کولو توفيق راکړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

1...بخاری، کتاب:الجنائز، باب:الصلاة علی القبر، صفحه:375، حديث:1337۔

2...ابو داوٗد، کتاب:الصلاة، صفحه:252، حديث:1555۔

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنه د **بهارِ شريعت** جلد 3 نه شپاړسمه حصه او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دامت برکاتهم العاليه د 91 صفحو كتاب **550 سنّتين اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه ذريعه د دعوتِ اِسلامي مدني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر هم دے.

| | |
|---|---|
| لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو |
| ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو | ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو |

**الله** پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلّى الله عليه واٰله وسلّم.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپې] دُرُود

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِه وَصَحْبِه وَسَلِّمْ**

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه بانديې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صلّى الله عليه واٰله وسلّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر

دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبۡر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوۡلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمۡ

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنۡه نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِىۡ عِلۡمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلۡكِ اللّٰهِ

حضرت اَحۡمَد صَاوِى رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو

1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

2...القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧



www.dawateislami.net

باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

### ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرۡضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اكبر رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

### ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنۡزِلۡهُ الۡمَقۡعَدَ الۡمُقَرَّبَ عِنۡدَكَ يَوۡمَ الۡقِيَامَةِ

د شفِيع اُمَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

### ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهۡلُهٗ

---

1...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

2...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

3...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٣٢٩/٢، حديث:٣٠

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1…مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة…الخ، ۲۵۴/۱۰، حدیث: ۱۷۳۰۵

2…تاریخ ابنِ عساکر، ۱۵۵/۱۹، حدیث: ۴۴۱۵